AHRAM

AFGHANISTAN HUMAN RIGHTS ACTION AND MOBILISATION

پە افغانستان کی د بشری حقونو د مدافعانو ملاتړ او پیيون (بسیج)!

د اهرام پروژه

۲۱چونګاښ ۱۳۹۵

د اهرام پروژه (پە افغانستان کی د بشری حقونو د مدافعانو ملاتړ او پیيون) د کاسپی موسسی د رهبری لاندی د " د افغانستان د ښځو او ماشومانو لپاره د انسانی مرستو موسسه (حاکا) " او "د مدنی ټولنو او بشری حقونونو شبکه" پە همکاری د افغانستان پە ۳۴ ولایتونو کی د زون پە سطح د ۱۲۰ څخه زیات د بشری حقونو د مدافعانو لخوا فعالیتونه مخ پر وړاندی وړل کیږی. د دی پروژی هدف پە افغانستان کی د بشر حقونو تە د احترام قایل کیدل او پە افغانستان کی بنستیزی آزادی د بشری حقونو د مدافعانو د حمایت او د هغوی د ظرفیت جوړوني د تقویت پە واسطه ، او د مدنی ټولنو د تحفظ لپاره د لارو چارو برابرول دی. د بشری حقونو مدافعانو اطلاق پە هغه چا کیږی چی پە انفرادي او یا ګروپی شکل د بشری حقونو د بهبود او ملاتړ لپاره قدم پورتە کوی. د بشری حقونو مدافعان همیشه د ښځو ، ماشومانو، د کډوالو، بی ځایه شویو د حقونو د دفاع پە لټه او د ملی او مذهبی لږکیو (اقلیت) حقونو، ژبه او جنسیت تر نظر لاندی نیسی، او د بشری حقونو د نقض پە کمولو او د انسانی کرامت رعیت کولو لپاره هلی ځلی کوی.لکه څرنګه چی د افغانستان د اساسی قانون پە ۲۴ ماده کی راغلی چی «آزادي د انسان طبیعي حق دی، دا حق د نورو لە آزادئ او لە عامه مصالحو پرته، چې د قانون لە لیارې تنظیمیږي، حدود نە لري. د انسان آزادي او کرامت لە تیري خوندي دي. دولت د انسان د آزادئ او کرامت پە درناوي اوساتنه مکلف دی ». ولی دغه خبری یواځی د کاغذ پر مخ پاتی دی او هیڅکه هم پە افغانستان کی ندی عملی شوی ځکه پدی هیواد کی د بشری حقونو د ساتونکو د بشری حقونو د فعالیتونو د مخکی وړلو لپاره د ډیرو زیاتو ګواښونو او خطرونو سره لاس او ګریوان دی د دغه ګواښونه او خطرونه د ښځو د حقونو د مدافعانو پر وړاندی څوځلی زیات دی. د بشری حقونو د ښځینه او نارینه مدافعان د زور واکو ، ټوپک سالاران، طالبان ، سیمه ایز قوماندانان ..... لخوا ګواښل کیږی چی دغه امر باعث د دی کیږی چی ګزارش نامکمل او پە ډیرو مواردو کې د قربانی څخه دفاع نە کیږی .

د بشری حقونو ټول مدافعان پە عدلی او قضایی، دولتی دفترونو، د مدنی ټولنو بنسټونه او رسنیو پە برخه کی لە ګڼو خطرونو او ګواښونو او د بشری حقونو د نقض سره مخامخ دی . دا مدافعان پە لومړیو کی د لیکونو پە ترلاسه کولو او یا هم د تلیفونی اړیکو پە واسطه د طالبانو او یا د نورو زور واکو لخوا ګواښل کیږی او کە دی سره بیا هم خپلی دندې تە دوام ورکړی نو هغوئ د مرګ لامل ګرځي.

پە افغانستان کی د بشری حقونو د مدافعانو فعالیت د ښه کولو لپاره لاندی ټکي باید پە نظر کی ونیول شی:

۱ ــ د فعالانو پە مینځ کی د همغږئ پیاوړی کول، د مدنی ټولنو بنسټونو او آزادو رسنیو

۲ – د بشری حقونو د بنسټونو ظرفیت لوړول

۳ – د نړیوالو کمپاینونو لپاره د بشری حقونو د مدافعانو ټولنو او د افغانی رسنیو په رهبری د اطلاعاتو راټولول، د رسنیو او پالیسی جوړونکو،ګزارشونو، بریښنا پاڼو او نړیوالو محمکو لپاره

۴-د بشری حقونو مدافع سازمانونه او هغه کسانو سره چې په سپیڅلي لیکه کې ولاړ دي او همدارنګه خبریالانو او مدافع وکیلانو تر منځ شبکه جوړونه

۵ـ ملی کارځایونه د حقوقي کمیټو او څارونکو ډلو، رسانه يي شبکو، د عمل لپاره غوښتل او مثبت مثال سره یوځاي

۶ـ د بشری حقونو مدافعانو باندي څیړنه او څارنه په ټولو برخو کې د لاسوندونو او د معلوماتو مختلف تحلیلونه د شمیر او ډول سره د ولایت پر اساس پیښي، دند، جنسیت قربانیان او بدګمانه یرغل کونکي

د بشری حقونو مدافعانو څخه ټول سره یوځاي د ملاتړ په لور!

آدرس: خوشحال خان،پنځمه ناحیه،د سیلو تیلو ټانک سرک، کور ۱۱۳۷

د اړیکی شمیره: ۰۷۰۵۴۵۶۱۳۸